كله چې ستاسو څخه يو څوک په خپلې ګډې کې څه شی ومومي او په دې پوه نه شي چې ايا څه ترې ووتل که نه، نو تر هغه دې له جومات څخه نه وځي تر څو چې غږ واوري او يا باد بوي ومومي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كله چې ستاسو څخه يو څوک په خپلې ګډې کې څه شی ومومي او په دې پوه نه شي چې ايا څه ترې ووتل که نه، نو تر هغه دې له جومات څخه نه وځي تر څو چې غږ واوري او يا باد بوي ومومي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې كله د لمونځ كوونكي په ګډه كې څه شی ښكته پورته شي، نو دی پوه نه شي چې آيا څه ترې ووتل كه نه ؟ نو د دې لپاره چې بيا اودس وكړي لمونځ دي تر هغه پورې نه پرې كوي تر څو له اودس ماتوونكي لامل څخه ډاډمن شي؛ داسې چې يا د باد غږ واوري، يا بوی حس كړي؛ ځكه چې يقيني شی په شک سره نه باطليږي، پداسې حال كې چې د ده طهارت يقيني دی او اودس ماتېدل يې مشكوک حالت دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65083